مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۴/۲۱

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یو سلواوه ویشتمه برخه

روژتې لنډۍ

اومه برخه

ځان مې روژه کې جنتي کړ
ګنګسیت مې والوت ګنهکار دوزخي ومه

په تعویزونو جنت نه شي
اړین شرطونه دي روژه عبادتونه

یو د روژې بل د ملا غږ
چې لاسپیکر کې وعظ شروع کړي زړه مې چوینه

د دې برخې له پاره دا نوې لنډۍ راټولې شوې دي:

د روژې شل ورځې په خیر شوې
باقي به ګورو چې به څه کېږي میینه

اوس دیدونونه هم ستونزمن دي
یو خوا روژه بل خوا طالب میین سپزینه

پخوا مې هیله د دیدن کړه
جانانه مخ مه راړوه چې روژه یمه

بې پېشړمي روژه په خوله یم
چا نه ګیله ده زې بیده پرېښې یمه

ځان مې روژه کې جنتي کړ
ګنګسیت مې والوت ګنهکار دوزخي ومه

په تعویزونو جنت نه شي
اړین شرطونه دي روژه عبادتونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

روژې له رنګه هم ور تور کړم
چې نور به څه کړي سودايي شومه مينه

روژې ته ټينګ يم، شي به خلاصه
بده نيستي ده چې سودا يې وړی يمه

يار په روژې کړوپ شوی نه دی
دا بېکاري او بېوسي يې زوروينه

يار يې په کور راته بندي کړ
يو خوا روژه ده بل خوا نه شته ديدنونه

روژه ديدن سره جوړ نه دي
چې مکروهات وي، بيا خو نه شته ثوابونه

روژه د خير او کرم مياشت ده
زه چې زورېږمه څه نور دي تومتونه

روژې کې هېڅ قصور هم نه شته
په ماپسې دي د نيستۍ لښکر ويرونه

په روژتي ټولي کې بند شوم
خلاصی مې نه شته، په هرپل خورم تيندکونه

يو د روژې بل د ملا غږ
چې لاسپيکر کې وعظ شروع کړي زړه مې چوينه

يوخوا روژه بلخوا وعظونه
لاسپيکرونه په لوري شول بمونه

د روژه مات په وخت به درشم
داسې خو مه وايه چې پلار دې نه پرېږدينه

که په ديدن روژه ماتېږي
ما خو په خدای که لا يوه نيولې وينه

د روژې ډېر به وي شرطونه
د يار ديدن خو روژه نه مکروه کوينه

روژه ثواب سره تړلې
روژه په خوله يم، خو ديدن ثواب ګڼمه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ